PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چي پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

هر څوک چي يو نفس د بل نفس له بدل څخه پرته يا بې له فساده په ځمکه کې ووژني نو ګواکې ټول خلک يې وژلي دي او هر چا چي دغه يو نفس ژوندی کړي نو ګواکې ټول خلک يې ژوندي کړي دي.
(المائدة: ۳۲)

درس حدیث

از ابو یحیی صهیب بن سنان رضی الله عنه روایت است که: آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود: کار مسلمان انسان را به شگفتی و تعجب وا میدارد. زیرا همهء کارش برای او خیر است، و این امر برای هیچکس جز مسلمان ممکن نیست. اگر به وی فراخی و آسانی روی دهد شکر کند، برایش خیر است، و اگر به او سختی برسد هم صبر کند برایش خیر است. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۲۷ مه ګڼه، پرله پسې ۲۲۲ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د لړم ۱۴ مه د۱۴۳۵ هـ ق د محرم۲ مه د۲۰۱۳ م د نوامبر ۵ مه

حزب اسلامی و جمعیت اسلامی برای آزادی کشور از اشغال روسها در یک سنکر می جنکیدند

"ارغندیوال"

جوانان در چرخاندن چرخ کشور بسوی مثبت نقش اساسی دارند

"داکتر عبدالله عبدالله"

صفحه چهارم

حکیم الله محسود په یوه نا مناسب وخت کې ووژل شو

"حامد کرزی"

د ولسمشر اندېښنه له دې امله ده چې دا پېښه بنايي د دې سبب شي چې د پاکستان د صدراعظم وروستی زمنې عملي نشي



کابل، رسنی؛
افغان ولسمشر حامد کرزی وايي، د پاکستاني طالبانو مشر حکيم الله محسود په يوه نا مناسب وخت کې ووژل شو او تمه ده چې دا کار به د سولې هڅې زيانمنې نه کړي.
ولسمشر حامد کرزي دغه خبره تېرماښام د امريکا د کانګرس له يوه پلاوي سره د ملاقات پرمهال په کابل کې وکړه.
ځينې کارپوهان هم وايي، د ولسمشر په ګډون افغان چارواکي دا اندېښنه لري چې؛ د محسود وژل کېدل به دافغانستان دسولې بهيرته زيان ورسوي.
د پاکستاني طالبانو مشر محسود دتېرې جمعې په ورځ په شمالي وزيرستان کې د امريکا د بې پيلوټه الوتکې په حمله کې ووژل شو.
(۴ مخ)

د مرسي محاکمه تر جنوری وځنډول شوه

مرسي قاضي ته وويل: "لا هم ولسمشر یم"

مصر، رسنی:
مصري چارواکو ويلي، چې د مخکني ولسمشر محمد مرسي او ۱۴ نورو تورنو اخوانيانو محاکمه د راتلونکې جنوری مياشتې تر اتمې نېټې پورې ځنډول شوې ده.
مصر محمد مرسي د اسکندريې ښار برج العرب زندان ته لېږدولې، خو نور تورن بنديان يې د قاهرې طرهٔ زندان ته استولي.
مرسي د مظاهره چيانو په وژنه کې پر لاس لرلو تورن شوی دی.
دولتي رسنۍ وايي، د نومورې د محاکمې بل پړاو به د جنوری مياشتې په اتمه نېټه تر سره کېږي، چې له دې لارې به وکيلانو ته د قضيې ارزولو لپاره وخت ورکړل شي.
(۴ مخ)

نشست اعضای حزب اسلامی افغانستان در ولسوالی بهارک ولایت بدخشان

گزارشگر: "مهان"
اخیراً در ولسوالی زیبای بهارک ولایت بدخشان، در حالیکه تعدادی از نماینده های حزب اسلامی از قرأ و قصبات این ولسوالی جمع شده بودند، در فضای اخوت و برادری اسلامی تشکیل جلسه دادند.
محفل و جمع آمد برادران حزب اسلامی در این ولسوالی با تلاوتی از آیات کلام الله مجید توسط یک تن از برادران حزب آغاز گردید. ...
(ص ۴)

قرار است لویهٔ جرگهٔ مشورتی در ۲۵ عقرب تدویر یابد

کابل، رسانه ها:
قرار است لویه جرگهٔ مشورتی به هدف بحث روی سند امنیتی بین افغانستان و امریکا با اشتراک حدود ۳۰۰۰ تن در ۲۵ عقرب در کابل تدویر یابد.
این مطلب را الحاج محمد یعقوب احمدزی معین اقوام و جرگه های وزارت امور سرحدات ...
(ص ۴)

انتخابات آینده
معامله گریهای پس پرده و تشویش ملت

فدا محمد فایض

افغانستان در حقیقت سه بار دموکراسی را تجربه کرد:
یکبار در زمان صدراعظم شاه محمود خان (۱۳۳۲ - ۱۳۲۵) چون هفده سال صدارت محمد هاشم خان (۱۳۲۵ - ۱۳۰۸) کاملاً صبغهٔ دکتور مآبانه داشت و دیگر شرایط عینی کشور ایجاب میکرد تا تحولی بمیان آید، بناءً برام بن فیصلهٔ شورای دودمان سلطنتی محمد هاشم خان استعفا داد و سپهسالار شاه محمودخان بجایش به مقام صدارت عظمی منصوب شد. فلهذا این تغییر ایجاب میکرد تا در اجراآت دولت هم تغییراتی بیاید. شاه محمود خان که خود هم نسبت به سلف خود شخص نرم مزاج بود یک دموکراسی نیم بند را اعلان کرد و مردم تا حدی نفس راحت کشیدند؛ اما وقتی صدای اعتراضات مردم بلند شد، صدراعظم آهسته آهسته از موقف اعلان کردهٔ خود عقب نشینی نمود تا اینکه به اصطلاح حرف خود را پس گرفت و بستر و بوریای دموکراسی در نور دیده شد. ...
(ص سوم)

د غرب له خوا راکړل شوي وسايط او تجهيزات په ښه توګه کارولی شو

د دې تجهيزاتو يوه برخه د مخالفينو له خوا د ښځ شويو ماينونو په چاودنو کې وېجاړېږي؛ خو دا ادعا ردوو چې، ګواکې افغان ځواکونه د دې تجهيزاتو په ساتلو کې ستونزه لري. "جنرال افضل امان"

کابل، رسنی:
د امریکا د اردو د اندیښنو د ښودلو يوه ورځ وروسته؛ د افغانستان دفاع وزارت وايي، افغان ځواکونه په ښه توګه د غرب له خوا د ورکړل شويو تجهيزاتو څارنه کوي.
د افغانستان دفاع وزارت د اپراسيون رييس "جنرال افضل امان" د دوشنبې په ورځ ازادي راډيو ته وويل؛ په تېرو اتو مياشتو کې چې افغان ځواکونو په مستقله توګه کوم عمليات ترسره کړي؛ همدغه وسايط او تجهيزات يې په کې کارولي دي.
(۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

سالم زعامت د شفافو ټاکنو له لارې یقیني کیدلې شي

سالم قیادت د سالمې ټاکنې له لارې ترلاسه کیدلې شي، چېرته چې د قیادت او زعامت د غوره کولو لپاره د سالمې ټاکنې فضأ رامنځته نشي او یا هم له سره د ولس آراو ته رجوع ونشي هلته بیا په سلو کې ۹۹ د سالم قیادت د راتلو چانس نشته. که چېرته د سالم قیادت د ټاکلو اړتیا نه وای نو الله تعالی به کله هم مؤمنانو ته دا امر نه و کړی چې امانتونه هغه خلکو ته وسپاری چې د ترسره کولو اهلیت او وړتیا یې لري. دا چې لوی الله د امر په صیغه مسلمانې ټولنې ته وړ او اهلیت لرونکو اشخاصو ته د امانت بارور په اوړه کولو تأکید کړی نو لدېنه دا واقعیت ترلاسه کېږي چې د اسلامي ټولنې ټول کارونه او امور باید داسې شخصیتونو ته وسپارل شي چې ورته د سپارل شویو کارونو د ترسره کولو قابلیت او مهارت ولري. داسې دې ونکړي چې د الوتکې پیلوټ دی د تراکتور په اشترنګ کینوي او خیاط دی د قضأ پر مسند، بزګر دې د روغتیا وزارت پر څوکۍ کینوي او ترکاڼ دی د انجنیری پر څوکۍ.

د هېواد مشرتابه او زعامت تر ټولو ستر امانت دی. مشر چې څومره زیرک، ذهین، غښتلې، د ملي او بین المللي مسایلو په باب زیات معلومات ولري همغومره د خپل ولس او خاورې ښه خدمت او ښه دفاع کولې شي، د هېواد جمهور رئیس یا زعامت اصلاً د ګرد ولس او د ګردې خاورې ولسمشر وي، هغه یوازې د یوه ولایت او یا د یوه قوم مسؤول نه؛ بلکې د ګرد ولس یو برابر مسؤولیت پر غاړه لري، د زعامت ټاکل او د هېواد پر مهمې څوکۍ دهغه کښېنول اصلاً هغه ته د هېواد د ټولو مسؤولیتونو واک سپارل دي؛ نو ځکه د مسلماني ټولنې ټولو وګړو ته چې د بلوغ او عقل مرحلې ته رسیدلې وي دا قانوني مسؤولیت لري چې په داسې مهم او برخلیک ټاکونکی پړاو کې خپله رأیه خامخا وکاروي.

د افغانستان مطلق اکثریت وګړي مؤمنان او د اسلام پر دین مین خلک دي دوی خامخا پخپل هېواد کې سالم او زیرک مسلمان قیادت خوښوي؛ خو دا قیادت هله تحقق موندلی شي چې رأیه ورکوونکي خپله رأیه وکاروي نه دا چې د ټاکنو پر ورځ پر لوړه غونډۍ کیني او تماشا وکړي. له اسلام، ولس او خاورې سره مینه لرونکی ورونه اسلامي مسؤولیت لري چې د هېواد د ښه مشرتابه ټاکلو لپاره له همدا اوسه د ولس هر فرد د رأیو له اهمیت نه پوه کړي او په دې خبره یې قانع کړی چې د شهیدانو، غازیانو، کونډو، رنډو، یتیمانو او د راتلونکی ځوان نسل د ارمانونو د پوره کولو لپاره د مسلمانانو ترمنځ یووالې او ورورګلوي پیدا کول خورا اړین دی، لومړی خو باید په دې خبره کار وشي چې څومره پخوانې جهادي مسلمان مشران په ټاکنو کې ولاړ دي دهغوی د ګوند غړي خپل مشران اتفاق او یووالې ته وهڅوي او دېته یې اړ کړي چې د یو ځانګړي کاندید د ملاتړ اعلان وکړي. که چېرته بیا هم له هغوی نه هېڅوک له خپلې کاندیداتورۍ نه لاس په سرکېدو ته چمتو نشي نو بیا دې ټول په ګډه د خپلو رأیو د ثمر ته رسولو په خاطر هغه چاته رأیه ورکړي چې واقعاً د ګټلو چانس لري، په دې سره به یې نه یوازې دا چې یو مناسب مسلمان زعامت کامیاب کړی وي بلکې لږ تر لږه به خپل هغه ارمان هم پوره شوی وي چې په افغانستان کې د سیکولر ذهنیت لروونکي قیادت پرځای د اسلامي فکر لروونکی قیادت لیدل غواړي. تر څو راتلونکی لپاره د افغانستان موجوده او راتلونکی نسل د غرب له مبتذل فکر او د غرب د فحاشۍ له تندو تیزو څپو څخه د نجات په ترلاسه کولو د عزت او عفت د ژوند خاوندان شي، که نه نو هغه وخت بالکل رانژدې شوې چې د بې دینۍ او فحاشې تیز طوفان د افغانانو اسلامي او افغاني کلتور دیوالونه پر یو مخ هوار او راتلونکی نسل د تل لپاره د سیکولریزم په خوسا ډند کې غرق شې، چې بیا ددې ټولو بدو عواقبو حساب به زمونږ پر اوږو وي او د قیامت په ورځ به د الله تعالی په وړاندې مخ تورن ولاړ یو، او د خپلو کړنو حساب به ورکووو.

گذری به دموکراسی و انتخابات

احمد شاه «وحدت»
Ahmad Shah WAHDAT
Mobile: 0700252598

تورن غلام سخی

گرچه دموکراسی های آبستن از تفکر غرب جوابگوی نیازهای بشری در تطابق به مقتضیات زمان نبوده، همیشه سبب مشکلات سیاسی، اجتماعی و اقتصادی مردم و نگرانی دولتها گردیده است.

دموکراسی که به مفهوم حکومت مردم بالای مردم است، ولی در عرصهٔ تأمین عدالت اجتماعی و عرضه خدمات عمومی برای ملت ها نتوانسته به مفهوم فوق گام های عملی و مؤثری را بردارد. یکی از مولفه های نظام دموکراسی لیبرال غرب اصطلاح کثرت گرایی است، که باید در نظام های مختلف توده های وسیع مردم در نوع نظام دموکراسی شرکت ورزند، و جایگاه خود را در درون حکومتها ببینند و همه خواستها و آرزوها باید مطابق به فیصله اکثریت صورت پذیرند.

در نظام های کثرت گرا مردم بطور جمعی بدون توجه به اعتقادات دینی و مذهبی در یک نظام مشارکتی با توجه به اصل دموکراسی نوع نظام ریاستی و یا پارلمانی را انتخاب مینمایند. انتخابات که در نتیجه نظام دموکراسی به صبغهٔ غرب انجام میپذیرد عاری از عیوب و خلاهای قانونی اجتماعی نبوده، در پهلوی آن سبب ایجاد امراض اجتماعی و اقتصادی دیگری میگردد که ما شاهد نظام های نوع دموکراسی در جهان هستیم که از ربع قرن بیست و یک بدینسو کشورهای طرفدار دموکراسی با ارایه نظام های اقتصاد بازار آزاد و طرح و تصویب قوانین برای رفع معضلات و کمبودی های اجتماعی شان به موفقیت نایل آیند، تا بتوانند مشکلات عدیده که در نظام لیبرال دموکراسی وجود دارد از بین ببرند ما مشکلات این نظام ها را در عرصهٔ سیاست بین المللی مشاهده مینمائیم که وضع رقت بار کشورهای شامل اتحادیهٔ اروپا مثل یونان، ایتالیا، اسپانیا حتی فرانسه که هر روز از سیاست پولی یورو رنج میبرند و هر روز رنج ریاضت اقتصادی را میکشند و افراد این ملت ها از گرسنگی، فقر و بیکاری با نظام های حاکم شان دست و گریبان اند.

کشورهای سرمایه دار که دارای اقتصاد قوی چون آلمان غرب در درون این اتحادیه که صدها ملیون دالر را بخاطر جلوگیری از انفلاسیون به دولت یونان کمک نمود، نتوانست جوابگوی نیازهای اقتصادی و بیکاری مردم آن سرزمین گردد. بالآخره سیاست ریاضتی (جیره خواری) را پیشنهاد کردند که از طرف مردم با خشم و عکس العمل شدید رد گردید و در طی همین تحولات اقتصادی و سیاسی چندین نظام دست بدست گردید، و رؤسای جمهور و صدراعظمان این کشورها به فساد اداری و پولی متهم گردیدند و به اثر شورش و طغیان توده ها یا به زندان رفتند و یا از وظایف شان برکنار گردیدند.

به همین سبب است که در بعضی کشورها از قرنها بدینسو نظام های پادشاهی حاکم است که در آنجا طغیان و شورش مردم کمتر به نظر میرسد. حتی تا حال در بعضی کشورهای اروپایی نیز نظام های نوع شاهی موجود است که نسبت به کشورهای ریاستی و پارلمانی کمتر به اوج اعتراضات و طغیان های مردم گرفتار می شوند. گرچه انتخابات یکی از جمله خواستهای مبرم دموکراسی است، مگر انتخابات در کشورهای دموکراسی به رنگ غرب و کشورهای اسلامی مغایرت فوق العاده دارد.

بخاطریکه در نظام های شکل اسلامی تعریف دموکراسی به شیوه و رفتار غرب قابل پذیرش نبوده حکومت مردم بالای مردم در قاموس نظام اسلامی شکل مضمون و محتوای خاص خود را دارد. در نظام های اسلامی حکومت به اساس هدایات مکتب اسلام و در روشنایی روش خلفا در مشورهٔ اهل حل و عقد که صلاحیت و صفات بستن و گشادن قراردادها و امضای پیمان های مهم را داشته و از جمله علما و دانشمندان اسلامی صاحب عقل و بصیرت باشند تا در قسمت تأمین عدالت و تطبیق اوامر شرعی به خطا نروند. ضرور است در چنین نظام شوری زعیم از مردم انتخاب شود که آنها از مبادی فکری و معانی نظام معتقد به آن آگاهی و خرد بیشتر داشته باشند.

در این نظام موضوع اکثریت و اقلیت مفهومی ندارد هر آنکس که عادل است و رأی آن به صواب است و تقوی آن مظهر است و فهم آن روشن است میتواند بر دیگران گوی سبقت براند و بر کرسی عدالت تکیه زند اگر به تاریخ خلفای راشدین توجه نمائیم می بینیم که اعضای شوراها همه کسانی بودند که از این چهار اصل فوق برخوردار میباشند.

انتخابات که در ثقیفه بنی ساعده صورت گرفت همه در محضر کبار صحابه، انصار، مهاجرین، بدریون، احد، احزاب و سائر غزوات حضور صورت گرفت که همه عادل، متقی، بصیر و مصاحبین پیامبر بودند علم اوامر، نواهی و احکام را از ایشان (صلی الله علیه وسلم) آموخته بودند. در انتخابات مذکور شرکت ورزیدند حضرت ابوبکر (رض) را در شرایطی انتخاب نمودند که حضرت ابوبکر صدیق که صاحب رأی، بصیرت، علم، تقوا و عدالت بود توانست که بواسطهٔ خطابه پرمحتوای خویش سقوط نظام بزرگ اسلامی را از خطر جدی نجات دهد. درین جا همه نظر به ابراز دلایل شرعی از طرف اهل حل و عقد شوری خلیفهٔ خود را انتخاب نمودند.

بلی! برای استحکام نظام که بر مبنی شوری بمیان میآید باید اصول وضع شده اسلامی را مراعات نمائیم و مطابق به دساتیر مکتب اسلام قدم بگذاریم و به اساس آزادی هایی که نظام اسلامی برای افراد جامعه قایل است تصمیم بگیریم و در انتخابات زعیم کشور با توجه به این اصول زرین و خدشه ناپذیر که سلامت و شفافیت هر نوع انتخابات را تضمین میکند شرکت نمائیم تا بتوانیم بدون شعار دموکراسی نظام عدالت، رفاه همگانی و جامعه عاری از تبعیض و فقر را به جهانیان الگو و نمونه بسازیم.

انتخابات آینده

معامله گریهای پس پرده و تشویش ملت

(ادامه از صفحه اول)

بعد از شاه محمود خان که در حالت بیخبری او که موصوف در خانهٔ خود حضور داشت که استعفای او از طریق رادیو اعلان شد، محمد داوود خان به مقام صدارت عظمی منصوب گردید (۱۳۳۲). داوود خان چون زیر دست کاکای خود محمد هاشم خان تربیت شده بود، سخت مزاجی او را به ارث برده بود و گویا دموکراسی جای خود را بار دیگر به دکتاتوری رها کرد. گرچه داوود خان یک سلسله پروژه های انکشافی را به راه انداخت؛ اما فضای سیاسی کشور را سخت مختنق ساخت که مردم بخصوص قشر چیزفهم کشور را به ستوه آورد. در اواخر صدارت داوودخان بین او و محمد ظاهرشاه بر سر یک سلسله مسایل حکومتی و مملکتی اختلافات بروز کرد تا آنکه داوودخان مجبور شد در حوت ۱۳۴۲ از مقام صدارت عظمی مستعفی شود. پاچا داکتر محمدیوسف یکی از وزرای کابینهٔ داوودخان را نامزد مقام صدارت کرد. موصوف کابینهٔ جدید تشکیل داد و به این ترتیب نه تنها داوودخان بلکه تیم او نیز به انزوا رفت.

صدراعظم جدید وظیفه داشت قانون اساسی جدید را تسوید و دموکراسی را در کشور پیاده نماید. این دوره که تا سال ۱۳۵۲ یعنی کودتای محمد داوودخان دوام یافت بنام دهۀ قانون اساسی یا دهۀ دموکراسی شهرت یافت؛ اما این دموکراسی آهسته آهسته راه را بنحوی برای انارشیزم باز کرد و شیرازۀ تسلط نظام سلطنتی آهسته آهسته به سوی ضعف گرایید و در پایان سلطنت جای خود را به جمهوریت محمد داوودخان رها کرد و کشور بار دیگر در آغوش دکتاتوری قرار گرفت؛ یعنی تنها نام سلطنت به جمهوریت مبدل شد، ولی دیگر مناسبات و اجراآت دولتی بگونهٔ شدیدتر از دکتاتوریهای گذشته اعمال میشد، این دوره در اختناق گوی سبقت از حکومت محمد هاشم خان نیز برد.

دور سوم دموکراسی بعد از سقوط طالبان در ۲۰۰۱ و آمدن امریکا و ناتو به افغانستان آغاز شد. این دموکراسی هم یکی اینکه در زمان حضور بیش از چهل کشور جهان در افغانستان آغاز شد و از سوی دیگر لوازم دموکراسی آنچنان که در تعریف و چهارچوب یک نظام دموکراتیک آمده است هنوز وجود نداشت. و حتی گفته میتوانیم که وضعیت سیاسی را میتوان یک حالت دکتاتوری آمیخته با انارشیزم توصیف کرد؛ ولی آهسته آهسته تا حدی وضعیت بسوی نرمش به پیش رفت و دولت هم تا حدی قوام یافت.

درین دوره آهسته آهسته احزاب چه احزاب گذشته و چه هم احزاب جدیدالتشکیل در وزارت عدلیه ثبت و راجستر شدند، که شمار آن به ده ها رسید و این تعدد و تکثر احزاب ملت را در حقیقت در یک مضیقهٔ دیگر قرار داد؛ زیرا احزاب جدیدالتشکیل عمدتاً احزاب افغانستان شمول نیستند و پایه های مردمی آن بیشتر خیلی ضعیف است ولی بهمه حال وجود احزاب لازمهٔ دموکراسی است.

افغانستان درین دوران دوبار انتخابات ریاست جمهوری و انتخابات شورای ملی و ولایتی را تجربه کرد و تنها انتخابات شوراهای ولسوالی‌ها تا هنوز نسبت معاذیر امنیتی جامهٔ عمل نپوشیده است. ما اکنون در آستانهٔ انتخابات دور سوم ریاست جمهوری و شوراهای ولایتی قرار داریم، با آنکه انتخابات شوراهای ولایتی هم بجای خودش مهم است؛ اما درین شکی نیست که این انتخابات تحت سایهٔ انتخابات ریاست جمهوری قرار میگیرد.

گرچه هنوز هم برخی از هموطنان ما، حتی در حلقات روشنفکری دلهره دارند که انتخابات صورت خواهد گرفت یا نه؟! اگر صورت گیرد به وقت و زمانش صورت خواهد گرفت یا اینکه به بهانه ای به تعویق خواهد افتاد؟ انتخابات شفاف، بیطرفانه و عادلانه خواهد بود یا اینکه مانند گذشته‌ها صدای اعتراض بلند خواهد شد بخصوص مانند دور دوم؛ ولی تا جایی که مربوط به کمیسیون انتخابات است، اول اینکه کمیسیون زمان انتخابات را اعلان نموده است که عبارت از شانزدهم حمل ۱۳۹۳ باشد. بهمین ترتیب زمان ثبت نام کاندیداها سپری شد و در حدود ۲۶ نفر خود را بریاست جمهوری کاندید کردند، و لست ابتدایی کاندیداها هم اعلان شد که اسمای شانزده نفر از آن حذف گردید و ده نفر از غربال تصفیهٔ کمیسیون انتخابات صحیح و سلامت برآمدند و اکنون منتظر اعلان لست نهایی میباشند. آنانی که از سوی کمیسیون انتخابات به اصطلاح بنابر تمسک بر ملاحظات قانونی رد شدند، همه رو به کمیسیون شکایات آوردند و اکنون دیده خواهد شد که کی ها ازین غربال تصفیه هم، جان بسلامت میبرند و کی ها بار دیگر رد میشوند.

گرچه تا هنوز باوجود تشویشها و دلهره‌ها هر نوع اظهار نظر نهایی قبل از وقت خواهد بود، اما اظهارات آقای اسدالله وفا که از سوی کمیسیون حل منازعات در رأس یک هیأت توظیف شده و سعی برآن دارد که کاندیداها را به دو الی سه نفر تقلیل دهد قابل توجه است. موصوف در اظهارات خود به کمیسیون سمع شکایات هم درین رابطه سفارشات داشت.

البته کاندیداهایی که بنابر لزوم دید خودش در حق کاندید دیگری از کاندیداتوری منصرف میشود و از کاندیدای دیگر مورد تأیید خود حمایت میکند این حق مسلم شان است و هیچکس را حق اعتراض برآن‌ها نیست، ولی تشویش ملت از معاملات پس پرده وجود دارد، گرچه مقامات دولتی بیطرفی خود در انتخابات را اعلان کردند، و دعای بنده این است که این تعهد جامهٔ عمل بپوشد و انتخاباتی صورت گیرد که چراغی برفراز راه آینده‌گان باشد و تا مدتها زبانزد مردم باشد که در فلان مرحله چنین انتخابات بیطرفانه صورت گرفت. اما گروهبندیهای موجود که آهسته آهسته شکل میگیرد و از علم به عین میآید و از گوش به آغوش، تشویشهایی را بوجود میآورد و مردم در مورد شفافیت و بیطرفانه بودن انتخابات تشویش را بدل راه میدهند.

انتخابات را نه باید با منازعات التباس کرد، وقتی کمیسیون حل منازعات هم در رابطه با انتخابات آستین بر میزنند خواهی نخواهی پیامی را بگوش میرساند که باید آنرا درک کرد.

> گرچه آنچنان که قبلاً گفتم باید منتظر ماند تا مسأله کمی بیشتر از هالهٔ ابهام برآید که اعلان نهایی لست کاندیداهای ریاست جمهوری و ضمناً شوراهای ولایتی به ما مجال خواهد داد، تا در زمینه واضح‌تر و شفاف‌تر قضاوت کنیم؛ ولی آنچه را بنده به عنوان یک پیام قبل از وقت میتوانم به گوش هموطنان خود برسانم این است، که از همین اکنون نشانه‌هایی از صف بندیها بچشم میخورد، که بخصوص باید برای مجاهدان راه حق و ملت مسلمان افغانستان قابل درک باشد، کاندیداهایی هم داریم که هم از اکنون حرف از ((جدایی دین از سیاست)) میزنند که بقول حکیم الامت حضرت علامه اقبال:
>
> جدا هو دین سیاست سې تو ره جاتي هې چنگیزي
>
> یعنی وقتی که دین و سیاست از هم جدا شوند و دین سیاست را رهنمایی نکند، باز چنگیزی باقی می ماند که ما با نام چنگیز و کارنامه های او آشنا هستیم.

ملت افغانستان در راه اسلام دو میلیون شهید داد و این قربانی بخاطر یک هدف بزرگ بود، بدون شک جدایی دین و سیاست یعنی سیکولرزم که سیکولرزم هیچگاه نه نعم البدل این همه قربانیهای ماست، و نه هم با عقاید و ارزشهای ما همخوانی دارد. بنظر بنده این آخرین فرصت برای ملت مسلمان افغانستان و وارثان جهادمقدس است باید هوشیار باشند و بیدار و نگذارند بدست خود فرصتهای خوبی را از دست بدهند و زمام امور کشور خود را بدست کسانی و قوتهایی بسپارند که با ارزشها و عقاید ما تصمیم الوداع دارند.

افغانان دې خپلو خبرو ته عملي بڼه ورکړي

محمد خلیل

په راډیو، ټلویزیون اخبار، غونډو او حجرو کې هر افغان همدا یوه خبره کوي چې موږ استقلال، ملي حاکمیت او ملي یووالی غواړو، منتخب، اسلامي حکومت او سلامتیا زموږ لومړیتوبونه دي، خو متأسفانه چې دا صرف تشې دعوې او لاپې شاپې دي، د عمل په ډګر کې هیڅ نه تر سترګو کېږي، ځکه خو تر ننه زموږ خبرو د حقیقت بڼه نه ده خپله کړې، په داسې حال کې چې بڼه پوهېږو ټول نعمتونه د عمل محصول دي او له عمل پرته مرام ته رسیدل ناشوني دي، ځکه خو الله تعالی پخپل سپېڅلي کتاب قرآن کریم کې په ځرګندو ټکو کې فرمایلي دي چې الله تعالی د یو قوم حالت تر هغه نه بدلوي تر څو پورې چې پخپله یې د بدلولو کوښښ ونه کړي. همدارنګه الله تعالی دهغو خلکو د تشو خبرو او تشو پلانونو غندنه کوي چې عملاً یې نه پیاده کوي او فرمایي دا ډېره لویه ګناه ده چې پر خپلو هغو خبرو عمل نه کوئ چې وایئ یې. دا په دې خاطر چې بې عمله وینا هیڅ ځای نه نیسي او د اسلام پاک دین قول او عمل دواړه غواړي.

استقلال، ملي حاکمیت، ملي یووالی او اسلامي حکومت زموږ د افغانانو په صادقانه هلو ځلو او قربانیو ترلاسه کېږي نه په تشو خبرو او دعوو، لکه څنګه چې یو څوک له عملي کوښښ پرته ډاکتر، انجنیر، ساینس پوه، اقتصاد پوه او بل څه نشي جوړېدلې همداسې له عملي کوښښ او هلو ځلو پرته د استقلال، ملي حاکمیت او ملي سلامتیا په څېر د نورو ډېرو نعمتونو له خوړو نشي برخمن کیدلی. وایي که راحت غواړې نو زحمت درسره بویه. خو ډېر افسوس چې موږ دا هر څه له زحمت پرته غواړو.

زموږ هر سیاسي مشر په ډېر فخر او غرور د افغانستان د استقلال، ملي حاکمیت او ملي ارزښتونو خبره خو کوي مګر دغه هدف ته د رسېدو لپاره چې د کومو کارونو د ترسره کولو اړتیا ده ډیری ورته له سره نه حاضرېږي او قصداً هغه لاره تعقیبوي چې ددغو اهدافو مخه نیسي، آخر په دې ځرګند واقعیت څوک نه پوهېږي چې استقلال او استحکام د ملتونو او ولسونو په یووالي کې نغښتل شوې، د هېواد پرمختګ او نیکمرغي په امن، یووالي، تعلیم او تربیې پورې تړاو لري امنیت او سلامتیا د قانون منلو او پلي کولو کې مضمر دی خو دا هر څه په افغانستان کې دعنقا مارغه په څېر دي چې نوم یې شته خو په سترګو نه لیدل کېږي.

موږ باید پخپله قضاوت وکړو او له خپل ضمیر نه وپوښتو چې زموږ د ټولو بدبختیو، بدمرغیو او ناخوالو اصلي لاملونه څه دي، هغه کومې کوتاهیانې دي چې زموږ د اهدافو مخه یې نیولې؟ د نورو هېوادو ولسونه ورځ تر بلې پرمختګ کوي ملي استحکام او قومي جوړښتونه یې پیاوړی کېږي مګر د افغانستان وګړي له تشو خبرو اخوا د ژوند په یو ډګر کې هم د پرمختګ ګام نشي پورته کولې ورځ تر بلې کړاوونه یې زیاتېږي او د ژوند له خواږو څخه محرومېږي، ددې ټولو علتونه او لاملونه ځرګند دي او هغه دا چې زموږ سیاسي مشرانو، علمای کرامو، سپین ږیرو ادیبانو او په ټوله کې ټولو افغانانو خپل هغه مسؤولیت نه دی ترسره کړی چې ورپه غاړه دی، سیاسي مشران تراوسه خپلو غلطیو ته نه دی متوجه شوي هغوی ددې پرځای چې هېواد شمول ملي سیاست پرمخ بوځي توکمیز سیاستونه پرمخ وړي، ددې پرځای چې د یو ملت ملي شیرازه او ملي یووالی غښتلی کړي پخپلو کې سره ویشي او ټوټې ټوټې کوي یې، ددې پرځای چې په ملي مسایلو کې ګډ دریځ خپل کړي او د یووالي شعار زمزمه کړي د اختلاف شعارونه ورکوي، بده لا دا چې موږ د خپلو مسؤولیتونو د ترسره کولو پرځای د خپلو ټولو ناکامیو پړه پر نورو اچوو او تل کوښښ کوو چې خپله ګناه او کمزوری د نورو په پړ کولو کې د خلکو له نظره پټ کړو په داسې حال کې چې دا یو ناکام کوښښ او له خپلې خاورې سره لویه جفا ده.

آخر موږ به تر څو خپله دا کمزوري د خپل ولس له سترګو پټه ساتو او تر څو به دا بهانې ورته کوو چې زموږ په مذهبي، سیاسي او نورو ډول ډول اختلافونو کې د پردیو دښمنانو لاسونه دي او هغوی مو دېته نه پرېږدي چې خپل دا ټول اختلافات حل او فصل او د اتفاق په ټغره کینو؟! د یو مؤمن او مسلمان په توګه چې د الله جل جلاله د سپېڅلي کتاب قرآن کریم او نبوي احادیث له بشپړو لارښوونو څخه برخمن یو او آخري نبي محمد صلی الله علیه وسلم په څېر یو مثالي لارښود هم لرو څنګه کولې شو په دا ډول خبرو چاته قناعت ورکړو، اصلاً داسې خبرې او بهانې خو دا معنا ورکوي چې زموږ د اسلام دین دومره کمزوری دی چې د اسلام د دښمنانو د توطیو مؤثر ځواب نشي ورکولې او هغوی پخپل استدلال او منطق کې دومره غښتلي دي چې زموږ مسلمانان دهغوی له دې جادوي اثر نه ځان نشي خلاصولې، هرګز نه! د الله دین پخپل ځای ډېر غښتلې او پیاوړی دی، په دې کې دومره استدلال او قوت دی چې د نړۍ په ګوټ ګوټ کې یې خپل حقانیت ثابت کړی او دا د نړۍ په سر یواځینی دین دی چې په کفري هېوادونو کې په چټکتیا سره خپرېږي او هر کال په زرګونو وګړي د اسلام په سپیڅلی دین مشرف کېږي.

که موږ واقعاً غواړو چې استقلال، استحکام، ملي حاکمیت او ملي یووالې مو یقیني شي، په هېواد کې مو د خلکو په خوښه غوره شوی اسلامي حکومت راشي، د نورو هېوادو د ولسونو په څېر مو د ژوند په هر ډګر کې د لیدو وړ پرمختګ وشي او پخپلو پښو ودرېږي نو ددې یواځینی لاره همداده چې زموږ سیاسي او مذهبي مشران د خبرو د غازیانو پرځای د عمل غازیان جوړ شي. سیاسي مشران چې ټول د افغانستان اوسېدونکي او مسلمانان دي په ګډه د اسلام د پاک دین په رڼا کې خپل ولس ته اسلامي منشور ډالۍ کړي او په ګډه د خپل هېواد، ولس او عقیدې د خدمت لپاره د عمل ډګر ته ودانګي، همدارنګه د دین علماء دې هم خپل اصل مسؤولیت ته په پام سره له خپلمنځي اختلافاتو څخه ډډه وکړي او ټول ولس په یوه لاره او په یوه عقیده روانه کړي، تر څو د ژوند په ټولو ډګرونو کې د بشپړې هماهنګۍ او یووالي په برکت د یو اسلامي حکومت په نتیجه کې د افغانستان ولس خپل استقلال، ملي حاکمیت، استحکام او نور ټول لومړیتوبونه ترلاسه او د سرلوړي ژوند خاوندان شي.

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان مرکزي ارګان

خپرونکې اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مسترديږي - پوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شانه، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

حزب اسلامی و جمعیت اسلامی برای آزادی کشور ...

(ادامه از صفحه اول)

گزارشگر: امیرخان «متقي»

روز پنجشنبه مؤرخ ۱۳۹۲/۸/۹ جلسهٔ کاری سالانهٔ جوانان حزب اسلامی در تالار هوتل باختر واقع ناحیه پنجم خوشحال مینه دایر گردید.

جلسه با تلاوت آیاتی از کلام الله مجید توسط قاری اجمل صورت گرفت. بعد از ختم تلاوت داکتر صاحب سیف الدین "عمرخیل" مسؤول جوانان حزب اسلامی و همچنان نامزد شورای ولایتی در ولایت کابل مهمانان را خوش آمدید گفته از حضور ایشان در این محفل تشکری نمود. ضمن آن لحظاتی بالای مشکلات موجود در کشور و راه های حل آن صحبت نمودند. بعداً مولوی عطاء الله لودین معاون شورای عالی صلح در افغانستان سخنان خود را پیرامون صلح از دیدگاه شریعت اسلامی چنین ابراز نمود: قوت مسلمانان در وحدت و همبستگی میباشد و ضعف مسلمانان در پراگندگی و بی اتفاقی است.

و بعداً محترم عبدالهادی ارغندیوال رئیس حزب اسلامی افغانستان و وزیر اقتصاد کشور در مورد یکجا شدن دو حزب تأثیر گذار در کشور و ضرورت آن در این مقطع تاریخی بیانات لازم را برای جوانان حاضر در تالار ارائه نموده گفت: حزب اسلامی و جمعیت اسلامی از اوایل جهاد تا خارج شدن قوای اشغالگر در پهلوی یکدیگر بخاطر آزادی کشور در یک سنگر می رزمیدند. متأسفانه بعد از پیروزی مجاهدین دشمنان کشور آرام ننشسته با دسیسه های پی در پی بین آنها فاصله‌ای را ایجاد نمودند اما اعضای رهبری این دو حزب افغانستان شمول حالت موجود را به نفع هیچ یک از این دو حرکت نمی دیدند و همچنان اتحاد این دو جریان سیاسی گمشده مردم افغانستان بود بالآخره اعضای رهبری احزاب فوق الذکر با تلاش های خستگی ناپذیر شان توانستند تا آنرا تمثیل نمایند.

همچنان یکی از جوانان با احساس جمشید "ایوبی" قطعه شعر حماسی خود را به حضور اعضای مجلس به خوانش گرفت.

بعد از آن انجنیرصاحب محمد خان معاون حزب اسلامی و نامزد معاونیت اول ریاست جمهوری سال ۱۳۹۳ پیرامون اهمیت انتخابات و اشتراک در آن نظریات خود را با جوانان شریک کردند.

متعاقباً سید نادر حاتمی مسؤول جوانان بادغیس به نمایندگی از زون غرب کشور گفت: حل مشکلات ولایات و کشور را جز از طریق اتحاد دو حزب افغانستان شمول چیزی دیگر نمی بینیم. همچنان انجنیر سردار ولی مسؤول جوانان ولایت کنر به نمایندگی از زون شرق حمایت خود را از اتحاد حزب اسلامی و جمعیت اسلامی با مکلمات اینکه تا چه وقت با یکدیگر در جنگ باشیم اعلان نمود.

ضمن آن قاری اسدالله شهاب مسؤول کمیته فرهنگی جوانان پارچه شعری را که آرام بخش روح همه مجلس بود به زبان قرآن و زبان پیامبر بزرگوار (صلی الله علیه وسلم) به خوانش گرفت.

علاوه بر این داکتر عبدالله عبدالله نامزد ریاست جمهوری سال ۱۳۹۳ یکی دیگری از سخنرانان این مجلس صحبت خود را خاص بر اینکه جوانان یک قشر تأثیرگذار در جامعه امروزی میباشد آغاز نمودند. در ادامهٔ سخنان خویش خطاب به قشر جوان چنین فرمودند: جوانان هستند که وحدت ملی را در کشور تمثیل می نمایند. جوانان کشور همیشه در عرصهٔ آزادی، آبادی و چرخاندن کشور به طرف مثبت و منفی تأثیر خاص خود را داشته میباشد و همچنان اشتراک در مجلس جوانان باعث ایجاد انگیزه های مثبت در بنده میباشد.

در ادامه داکتر سعیدالله به نمایندگی محصلین، قاری عبداللطیف معاون جوانان ولایت کندز به نمایندگی از زون شمال، انجنیر امان الله به نمایندگی از جوانان ولایت ننگرهار، قاری عبدالرزاق همت مسؤول فرهنگی جوانان ولایت لوگر و حاجی صاحب خان زرین به نمایندگی از جوانان ولایت کابل از اتحاد این دو حزب بزرگ حمایت خود را با جملات مختلف اعلان نمودند در اخیر مولوی صاحب جانباز سرفراز با دعای خویش مجلس را اختتام نمودند.

حکیم الله مسعود په یوه نا مناسب ...

که څه هم د هیواد دننه څیني کړی داوه دي چې؛ د حکیم الله مسعود وژل کېدل به پر افغان طالبانو او د دوي د سولې پرهڅو کوم اغېز ونه کړي، خو ولسمشر حامد کرزی وايي، مسعود په نامناسب وخت کې ووژل شو.

ولسمشر کرزي د ارګ په مانۍ کې د امریکا د کانګرس له یوه پلاوي سره د ملاقات پر مهال وویل، هیله ده چې؛ د مسعود وژل کېدل د افغانستان او پاکستان د سولې په روانو هڅو کوم اغېز ونه کړي.

له ارګ څخه خپره شوې خبرپاڼه له مخې ولسمشر همدا راز په لندن کې د پاکستان له صدراعظم نواز شریف سره خپله ورروستی کتنه هم ډېره مهمه او ګټوره بللې ده.

کارپوهان وايي، د ولسمشر اندېښنه له دې امله ده چې دا پېښه بنايي د دې سبب شي چې د پاکستان د صدراعظم وروستي ژمنې عملي نشي.

حاجي سید داود د ولسمشر حامد کرزي دا اندېښنه په ځای بولي او وايي چې؛ د حکیم الله مسعود وژل کېدو پاکستاني طالبان په غصه کړي او دوي به په لنډ وخت کې د اسلام اباد له حکومت سره د سولې خبرې هم پیل نه کړي:

"د پاکستان د طالبانو تحریک د افغانستان د طالبانو له مشر ملا محمد عمر سره بیعت لري، کله چې د پاکستان د دولت او پاکستاني طالبانو ترمنځ مخالفت راځي، بې له شکه د افغانستان د طالبانو په تحریک هم تاثیر کوي، دا مساله چې وشوه، اوس نواز شریف نه شي کولای پاکستاني طالبانو ته قناعت ورکړي او کله چې هغوی قانع نه وي او د پاکستان لانجه له خپلو طالبانو سره وي، نو پاکستان به څنګه وکولای شي زموږ طالبان دې ته وهڅوي چې له ولسمشر کرزي سره خبرو کې برخه واخلي."

ورروسته له دې چې؛ تېره جمعه د پاکستاني طالبانو مشر حکیم الله محسود د امریکایي څواکونو په هوایي حمله کې ووژل شو، اوس پاکستاني طالبانو ویلي چې له اسلام آباد سره د سولې د خبرو هیڅ جواز نه دی موجود.

د پاکستان حکومت هم د مسعود وژنه د سولې پر بهیر حمله بللې او ویلي یې دي چې؛ دوي به له امریکا سره په خپلو اړیکو هم له سره غور وکړي.

نوموړی په داسې حال کې ووژل شو چې؛ په دې وروستیو کې د پاکستان حکومت او طالبان په خپلو کې د سولې د خبرو پیل ته نږدې شوي وو.

خو د افغانستان د سولې عالي شورا ویاند مولوي شهزاده شاهد وایي، د پاکستاني طالبانو د مشر وژل کېدل به پر افغان طالبانو ډېر تاثیر ونه لري:

"دا چې د پاکستان د حکومت او پاکستاني طالبانو ترمنځ د سولې خبرې د شروع کېدو په حال کې وې، هغې کې به طبعاً یو څنډ راځي، زه فکر کوم چې دا موضوع به افغاني طالبانو باندې ډېر تاثیر ونه لري."

خو د افغانستان د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد د مسعود وژل کېدل یوه لویه ضایعه بللې او د پاکستان له حکومته یې غوښتي چې د امریکا ددې ډول حملو مخنیوی وکړي.

څیني افغان څېرونکي وایي، د پاکستان د استخباراتو څیني کړی نه غواړي چې د افغانستان او پاکستان حکومتونه دې له خپلو وسله والو طالبانو سره سوله وکړي.

دوی وایي:

پخوا هغه افغان طالبان هم د پاکستان د استخباراتي کړیو له خوا وژل شوي او یا نیول شوي چې د سولې د خبرو پلویان وو.

نشست اعضای حزب اسلامی...

بعداً مطابق به اجندا و هدف مجلس در ابتدا برادر جمال الدین مسؤول حزب اسلامی در این ولسوالی در رابطه به مسایل جلب و جذب و علاقمندی جوانان مسلمان این ولسوالی به حزب اسلامی که روزانه سیلی عظیمی از این کتله بزرگ و آینده سازان که در واقعیت راه روان راه اسلام و راه داکتر عمر شهید اند به این حزب روی می آورند، و با دادن تعهد و پیمان آماده گی خویش را از برنامه های برحق حزب اسلامی افغانستان که همانا اعمار یک جامعه عدل الهی، پخش افکار اسلامی و جلوگیری از فحشا، فساد و انحرافات می باشد، اعلان کرده، در صف برادران و اخلاصمندان این حزب، قرار می گیرند.

به همین اساس مطابق به برنامه کاری جلسه تعدادی از برادران حزب اسلامی در رابطه به سیاست ها، برنامه ها و موضعگیری های اخیر حزب اسلامی افغانستان که همانا برنامهٔ وحدت، اتحاد، همبستگی، برادری، رفع کدورت و یک پارچه گی مسلمانان و تنظیم های اسلامی می باشد، صحبت های مفصل و همه جانبه نمودند که از طرف سایر برادران اشتراک کننده این محفل مورد تأیید و استقبال گرم قرار گرفته، و این عمل و حرکت نیک و به موقع حزب اسلامی افغانستان را در شرایط فعلی که رشوت، اختلاس، فساد اداری، فساد اخلاقی و نابرابری های اجتماعی به اوج نهایی خود رسیده، یک گام کاملاً ارزشمند و مؤثر و مفید به حال مردم مسلمان و رنج کشیده کشور خواندند، و جمع برادران به این باور بودند که همبستگی و برادری حزب اسلامی، جمعیت اسلامی و وحدت اسلامی افغانستان که بدون شک همه دارای اندیشهٔ اسلامی و توحیدی هستند، میتواند تغییری را در افغانستان که همه مسلمان اند، به یاری خداوند لایزال و ناظم کائنات به بار آورده و روزنه های خوشبختی را بروی مردم مسلمان افغانستان بگشاید و زخم‌های سینه‌ها را مرهم و اشک های یتیمان و بازمانده گان شهدای برحق راه اسلام را پاک کند و یک حکومت و رژیم اسلامی که در آن هیچگونه تبعیض و نابرابری، سمت و سمت پرستی، قوم و قوم گرایی وجود نداشته باشد، پی ریزی گردد.

هکذا در این جلسه و نشست جمع برادران حزب در این ولسوالی مصمم شدند تا در گرفتن کارت های انتخابات و رأی دهی که از ضروریات مبرم و اساسی می باشد، همه ای از مردم این ولسوالی را تشویق و ترغیب کنند، ضمناً همه از برادران حزب معتقد بهٔ این امر بودند که: این کارتها است که تغییر می آورد، و این کارتها است که جامعه اسلامی می سازد، و این کارت ها است که اندیشه های الحادی و غیر اسلامی را از وطن بدور ساخته و در گودال و زباله دان تاریخ به خاک می سپارد. و خلاصه این کارتها است که صلح و امنیت، ترقی و پیشرفت، آبادی و عمران، آبرو و عزت برای مردم مسلمان بوجود می آورد.

و برعکس اگر این کارتها با زیرکی و هوشیاری و احساس وطندوستی اسلامی از طرف مردم مسلمان و متدین این مرز و بوم بر موضع اصلی و درست آن استعمال نگردد، میتواند نتایج منفی و بدبختی را ببار آورد.

محفل برادران حزب اسلامی افغانستان در این ولسوالی با دعای صلح و امنیت، ترقی و پیشرفت و همبستگی هرچه بیشتر جمله مسلمین افغانستان و رفع هر نوع وحشت و دهشت و قتل و خونریزی و تثبیت حاکمیت قانون اسلامی حوالی عصر همان روز پایان یافت.

د مرسي محاکمه تر جنوري ...

د پروني محاکمې په اوږدو کې شاغلي مرسي د محکمې له یونیفورم اغوستو انکار وکړ او د راپورونو له مخې، محکمې ته یې وویل، چې دی اوس هم د مصر قانوني ولسمشر دی. د نوموړي تر څنګ د اخوان المسلمین څوارلس نور غړي هم له محاکمې سره مخامخ دي.

په مرکزي قاهره کې د شاغلي مرسي د پلویانو لخوا د یوه سترېدونکي لاریون راپورونه ورکړل شوي دي.

د شاغلي مرسي محاکمه په داسې وخت کې پیل شوې، چې د ورته تورونو له امله د مصر د یوه بل پخواني ولسمشر حسني مبارک محاکمه هم روانه ده. د شاغلي مرسي مدافع وکیل محمد توسون د مرسي محاکمه له اساسي قانون خلاف وبلله.

د غرب له خوا راکړل شوي ...

جنرال امان دا ومنله چې د دې تجهیزاتو یوه برخه د مخالفینو له خوا د ښځ شویو ماینونو په چاودنو کې ویجاړېږي؛ خو دا ادعا یې رد کړه چې، ځواکي افغان ځواکونه د دې تجهیزاتو په ساتلو کې ستونزه لري:

"دا وسایط او تجهیزات چې غرب موږ ته راکړي، د عملیاتو او توانمندی ټول فعالیتونه پرې په ښه توګه ترسره کوو.

د همدې تجهیزاتو په واسطه عملیاتي پلانونه پرمخ وړو؛ خارنه یې هم کوو. خو یوه ستونزه دا ده چې، د دې وسایطو او تجهیزاتو یوه برخه د مخالفینو له خوا د ښځ شویو ماینونو په چاودنو کې تخریبیږي."

د امریکا د دفاع وزارت خپور شوی راپور له یوې خوا وایي؛ چې افغان ځواکونه د غرب له خوا د ورکړل شویو تخنیکي تجهیزاتو په ساتنه کې ستونزې لري او دغه نوی جوړ شوی اردو به ونه توانیږي چې؛ د مخالفینو پر وړاندې په دوامداره توګه وجنګېږي. خو له بلې وایي چې، افغان ځواکونه اوسمهال د دې توان لري چې؛ د هېواد د یو شمېر سیمو امنیت د بهرنیو ځواکونو له مرستو پرته هم وساتي.

د امریکا د اردو د دغه ضد او نقیض راپور په هکله د چارو څیني پوهان وایي؛ په دې بهانو باید افغان ځواکونه له مرستو بې برخې نه شي.

د ولسي جرګې غړې شکریه بارکزۍ وایي چې؛ د وسایطو په ترمیمولو کې باید له افغان ځواکونو سره هم مرسته وشي:

"دا ډول بررسي باید، د دې لپاره بهانه نه شي چې، د افغانستان امنیتي ځواکونه د جنګي وسایطو له اخیستلو محروم کړي.

که په دې برخه کې ستونزه وي، هغې ته باید تدابیرونیول شي. د دې وسایطو په ترمیمولو کې باید له افغان ځواکونو سره لازمي تخنیکي مرستې وشي."

د افغانستان دفاع وزارت چارواکي وایي، د مخالفینو پر ضد د دوی اته میاشتینې مستقل بریالي عملیات ښیي چې؛ افغان ځواکونه د مخالفینو پروړاندې جنګېدلی شي.

دوی داهم وایي، دا پرمختګونه یې تلفاتو هم نه دي شوي.

د امریکا د اردو په راپور کې دې ته هم اشاره شوې چې؛ د افغانستان او امریکا ترمینځ د امنیتي او دفاعي تړون لاسلیک کېدل به، د ستونزو له حل سره مرسته وکړي.

امریکا ویلي، د دې تړون له لاسلیک کېدو سره به، له دوه زره څوارلسم کال وروسته په دې هېواد کې یو شمېر پوځیان وساتي؛ څو افغان ځواکونو سره په روزنیزو چارو کې مرسته وکړي.

د چارواکو د معلوماتو له مخې په وروستیو څو میاشتو کې له افغانستان څخه شاوخوا اویا زره بهرني ځواکونه وتلي او ځایونه یې افغان ځواکونو ډک کړي دي.

خو څیني خلک له دوه زره څوارلسم کال وروسته د افغان ځواکونو پر توان یو لړ اندېښنې لري.

قرار است لویهٔ جرگهٔ مشورتی ...

اقوام و قبایل به آژانس خبری پژواک بیان کرد.

وی گفت که:

جرگه مشورتی برای سه روز پلان شده، اما درصورتی که بحث ها طولانی شود، حکومت برای هفت روز آمادگی تدویر جرگه را دارد.

احمدزی افزود که:

این جرگه متشکل از اعضای شورای ملی، استادان پوهنتون ها و مکاتب، اعضای جامعه مدنی و نماینده گان سکتور خصوصی و غیره خواهد بود.

قرارداد امنیتی بین افغانستان و امریکا به اساس موافقتنامه همکاری های ستراتیژیک بین دو کشور امضا می شود.

بحث ها بین مقام های افغانستان و امریکا از حدود یک سال به این طرف روی مواد سند امنیتی که به اساس آن چگونگی حضور نیروهای امریکایی، پس از پایان سال ۲۰۱۴ میلادی در افغانستان مشخص می شود، مذاکره کرده اند.

حکومت افغانستان اعلام کرده است که مقام های دو کشور در مورد برخی مواد این سند به توافق رسیده؛ اما تصمیم درباره صلاحیت قضایی سربازان امریکایی را به لویه جرگه و نماینده گان مردم واگذار می کنند تا مردم افغانستان در این مورد تصمیم بگیرند.

رییس جمهور افغانستان گفته است که:

احترام به حاکمیت ملی، تامین امنیت در کشور و تقویت نیروهای امنیتی و اقتصاد افغانستان از شرایط افغانستان برای امضای سند یادشده امنیتی می باشند.